مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۰/۰۹/۲۱

# د افغانستان د لوی قاموس د اقتصاد برخه




ځوانان زموږ راتلونکی دی، ، دنن ورځې سیاسی، اقتصادی، کلتوری او نور ټول دریځونه سبا د دوی په لاس کې دي. هره ټولنه هم اوسنی(حاضر) نسل( present generation) او هم راتلونکی نسل( next generation)لري، دا د ټولنیز بهیر او ژوند طبیعی سلسله ده. په پرمختللو ټولنو کی ټول هغه تدابیر( کلتوری،روزنیز او روغتیایی تدابیر، ټول زیربنایی تاسیسات، کسبی زده کړي،...) چې تر لاس لاندې نیول کیږی، تر ډیره یې موخه راتلونکی نسل وي. د موجود یا اوسنی نسل لویه اندیښنه د دوی دراتلونکی نسل دپوهې ظرفیتونه، ، دفرهنګی میراث ساتنه، دهغوی روغتیا، بدنی او معنوی روزنه، پوره هوساینه او دستونزمنو لارو لپاره د تجربو لیږد وي. په دې توګه د راتلونکي نسل په وړاندې نننی نسل یو ډیر لوی او دروند مسئولیت لري. له بده مرغه ۴۷کلونو جنګونو ددغومسئولیتونواو ارزښتونو ښه او پیېلی (مسلسل)لیږد ټکنی کړ. هغه لازم معنوی ظرفیت چې باید زموږځوان کول لرلای، ټکنی شو. متاسفانه د دوی ډیره انرژی اوس فزیکی اخ وډب کی مصرفیږی، هغه اخ و ډب او لالهاندي چې باید صرف فزیولولوژکی اړتیاوی وربانده ورپوره شي. (دمازلوله هرارشی سره سم؛ له فزیولوژیکی اړتیاوو نورې پورته اړتیاوې ټولې پرځای پاتې دي) په دې کې یوه نیمګړتیا د ځوان کول د لغاتو د دایرې محدودوالی دی. البته په دې نیمګړتیا کې قطعاً دوی ګرم ندی، دا بدبخته جګړه ده چې زموږ ځوان کول یې له دې ستونزې سره مخ کړی. کله چې موږ غواړوپه پوهنتون کې د پوهنتون په کچه او هغه هم صرف د لسانس (BBA, B.Com, Macro, Micro....) په کچه درس او لکچر ارئه کړو، زموږ ځوانان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځیر و لولئ

د استاد خولې ته حیران حیران ګوری، د پوهنتون په سطح ادبیات ورته نااشنا، عجیب او پردي ښکاری. دوی معمول لغاتونه او اصطلاحات(terms)، چی باید دوی ته ډیر آشنا او د دوی په ورځنی محاوره کې متداول وای، نشی درک کولای. موږ استادان مجبور یاستو د درس اصلی سلسله پریږدو او دوی ته دلغاتو معنا ووایو. په دی ترتیب په هروخو شیبو کې دوی ته زیات شمیر هغه اقتصادی اصطلاحات چې ورته نااشنا وي، معنا کوو، په دې کې درسی ساعت ختم او اصل موضوعات پاتې شي. همدا علت دی چی هم استاد ناراض او هم محصل ناراض دی. خو پخوا؛ زموږ د پوهنتون په دوره کې دا ډول ستونزې نه وې، هغه وخت دافغانستان معارف په ډیر ښه وضعیت کې و او ددولسم صنف فارغ(بکلوریا- متوسط مکمل) د پوهنتون (لسانس)سویې ته برابرو. نو په اوسنی جنګ ځپلی وضعیت کی ددرس اصلی محتوا پاتې شی او زموږ ډیر وخت د لغاتو اوصطلاحاتو په معنا کولو تیرشی، داسې مرجع نه وي چې محصل مراجعه ورته وکړی او خپل مشکل عاجل حل کړي. له بلې خوا داقتصاد او مدیریت ماهرین چې لا مخکې فارغان شوی، او یاهم د بکلوریا په کچه دنده کې مقرر دی، خبریالان او میدیا لا زیات قاموس ته ضرورت لري. ددې ستونزی د حل لپاره د دکشنری اشد ضرورت دی. څرګنده خبره ده چې اوسنې وخت کې د هرې څانګې ادبیات ډیر بډای او پراخ شوي دي. په تیره بیا په اقتصاد کې، مالی موسسات، بانکونه، تصدۍ او دتصدیو مدیران، پالیسی جوړوونکی ادارې او نور سوداګریز، پولی او ډیر پراخه اقتصادی ډګرونو کې د نویو تالیفاتو او څیړنو په رامنځته کیدو، دلغاتو او اصطلاحاتو له پلوه دلویې زیرمې لرونکي شوي دي. دغه اصطلاحات نه یواځې اقتصاد کې، بلکې د ژوند په ډیرو نوروډګرونو؛ لکه اداره، سیاست، حقوقو اوپه ټولو نورو اجتماعی علومو کې هم اهمیت موندلی دی. دا ځکه چې اوس هر څه له اقتصاد، پلان کولو او معاملاتو سره تړلی دی. له بلې خوا اوس د اقتصادی فعالیتونو د مدیریت کولو او د معاملاتو ډیره برخه بریښنایی شوې ده نوې تکنالوژی د اقتصاد د ډګر لومړنی ضرورت دی، که دغه نوی چاپیریال سره د اقتصاد محصلان ډیر ژر او پوره آشنا نه کړو، زموږ د تدریس کیفیت به دتوقع سره سم نه وی. ددې لپاره هم یوه وسیله د مسلکی تشریحی دکشنرۍ شتون دی.

د پوهې اوکار دغه ساحات خپل ځانګړی اصطلاحات او مفاهیم لري. یو اقتصاد پوه به تر هغو پورې بریالی نه وي، ترڅو چې په مفاهیمو او اصطلاحاتو پوره احاطه ونلري او هغو څخه لازمه معنا وانخلي او هغه سم ونشي کارولی. دغه هدف ته درسیدو لپاره نه یواځې یوې ساده لغتنامې ( glossary) ته، بلکې تشریحی قاموس(ډکشنری- سینډګی) ته اړتیا ده. هغه ډکشنري چې په یوه ژبه لیکل کیږي، بهتره ده لږه یا ډیره تشریحي وي. یعنې دیوې اصطلاح یا لغت معنا ښودل کیږي، پکار ده چې د تعریف، شواهدو او مثالونو له لارې لږ څه توضیح هم شي او د واحد مدخل مختلفې معناوې او ترکیبونه یې معرفي شي. (د قاموس لیکنې په بحثونو کې هغه کلمه مدخل بلل کیږي چې په قاموس کې باید معنا او توضیح شي).

اقتصاد یوه ټولنیزه ځانګه ده، یو شمیر اصطلاحات یې ورځینو دندو کې ځانګړې معنا پیدا کوي چې مسلکی او اصطلاحي معنا یې بیا له لغوی سره یو څه توپیر پیدا کوي، نو د دې لپاره چې د دې ډول کلمې په معنا او د استعمال پر ځای لا ښه پوه شو،باید د اقتصاد ځانګړې دکشنری یا قاموس ولرو. نورې نړۍ دې برخه کی پوره کار کړی دی. له نیکه مرغه "دافغانستان لوی قاموس" چې اوس آنلاین شویډ د دغو ټولو اړتیاوو ځواب ویونکی دی. زموږ د پام وړدغه قاموس د څلوروژبو(انګلیسی، جرمنی، پښتو او دری-پارسی) قاموس یا دکشنری ده.

زموږ پخوانیومشرانو استادانو او د مالی موسساتو کارکوونکو د اقتصاد ساحه کې د اقتصادی فرهنګ یو داسې بډای میراث موږ ته پریښی چې بیخی زیات ضرورت دی چې له ننۍ پوهې سره یوځای وربانديې وپوهیږو او دنن ورځې معاصرو ادبیاتو او فرهنګ سره یې غاړه غړۍ کړو. دغه ارزښتمن میراث خپل ارزښت له لاسه ندی ورکړی. زموږ په دري- فارسي او پښتو ژبو کې لا هم د نوی اقصاد او داقتصاد دبیلابیلو ساحاتو( صنعتی اقتصاد، کرنیز اقتصاد، منطقوی اقتصاد، انرژۍ، مناقلاتو، پلان او برنامی جوړلو، بریښنایی بانکولی، تصدۍ، مالی مدیریت، تشبثاتو، ...) ډیر اصطلاحات ندی مشهور شوی. له بده مرغه د پرمختیا(انکشاف development) پر ځای د توسعې، د عایدپر ځای ددرامد، د مصرف او لګښت پرځای هزینه، د نسبت او تناسب(انډول rate) پر ځای نرخ، بهینه، درونزا، برونزا، تارنما، افت، شناور او داسې نور اصطلاحات مطالب او مقصد سم نشی افاده کولای، نو ځکه زموږ معمول او کلونه کلونه مروجه افغانی اقتصادی پخوانی ادبیات، د اوسنیو یو شمیر نابلده او خودساخته په پرتله ډیر بامفهمومه، منطقی او دکره معنالرونکی وو. دا ځکه چې دا مو هر یو له انګلیسی، جرمنی او آن روسی مفاهیمو سره پرتله او تر ټولو هغه د کره معنا لرونکی مو غوره کړی وو، د افغانستان لوی قاموس هم همدا کارکړی او لګیا دی نور یې هم پوره کوي.

باید هېره نشي چې؛ ډکشنری نیمګړی تشریح نه، بلکې پوره وي. له نیمګړې تشریح مطلب دا دی چې د لغت ځینې معناوې راواخیستل شي او ځینې پاتې شي. کلمې معمولاً مختلفې معناوې لري. ځینې پخوانۍ، ځینې اوسنۍ، یوه یا دوې مشهورې معناوې او نورې نامشهورې. د یوې مسلکی اصطلاح سمه معنا، تشریح اوتعریف هغه دی چې دپام وړ کلمه له نورو ببېله کړي. البته، پوره او دقیق تعریف معمولاً ډیر مشکل دی، خو کامیاب لیکوال دغه کار په مهارت سره کولای شي. د دې مشکل د اسانولو یوه لاره دا ده چې د نورو ژبو د کامیابو ډکشنریو له تجربو څخه استفاده وشي. په دې کار کې دوو ټکو ته پام پکار دی: یو دا چې له بهرنۍ ژبې څخه ژباړه تحت اللفظی نه وي، او بله دا چې د ژبو او کلتورونو توپیر ممکن یوه ژبه کې یو ډول معنا او تعریف ولري او په بله کې بل ډول تعریف ولري.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دافغانستان لوی قاموس(قاموس کبیر افغانستان) همدغو مهمو ټکو ته پاملرنه کوي. دبیلګې په توګه موږ زیاتره د انګلیسي ( morality ) او ( ethics) دواړه په اخلاقو ترجمه کوو؛ اخلاق بیا یواځې پاک لمنۍ ته وایو، خو ممکن له مورالیتی څخه موخه په یوه انګلیسي جمله کې د پاک لمنۍ په شمول، ټول انساني سجایا او سایکولوژیکی ښیګڼې وي. عوام سوداګری، تجارت او کاروبار یو دبل پرځای کاروی ، خو د اقتصادپه قاموس کېtrade خپله معنا اوbusinessخپله معنا، need, commerceخپله معنااو want ...خپله معنا لری. property،او assets, capital ,wealthهیڅکله مترادف ندی، دغه هره اصطلاح خپل ځای لري، نو کله چې موږ مثلاً د تجارت له اخلاقو څخه یادونه کوو، موضوع خاصتاً تجارتی اخلاقو پورې منحصره کیږی. په ډکشنري کې د مستقلې کلمې د مختلفو معناګانو ، اسمي او فعلي ترکیبونو او اصطلاحاتو رااخیستل او توضیح کول پکار دي. زموږ په دري-فارسی او پښتو قاموسونو کې د دغسې مدخلونو د توضیح لپاره ښه طریقه د مثالونو او شواهدو راوړل دي، ترڅو موضوع ښه روښانه شي، سره له دې چې دا اړتیا د طوالت لامل ګرځي، خو ضرور ده. اصطلاحات د خپلې معنا له پلوه توپیر لري، ځینې آسانه او لنډ تعریف لري، لکه تولید؛ چې یواځې یوه کرښه ده، خو شرکت او دشرکت ډولونه بیا یو څه زیاته تشریح غواړی. زموږ په مالی، اقتصادی، حقوقی ادارو او محاکمو کې همدا اوس هم (دافغانستان د تجارت اصولنامه) مروجه او مسایل وربandی حل کیږی، چې په ځانګړو افغاني سوچه ادبیاتو لیکل شوی ده، نو که موږ همدغه اصطلاحات دانګلیسی، آلمانی، روسی او نورو ژبو سره زده نه کړو، په دغه اصولنامی نه پوهیږیو. دافغانستان دلړی قاموس داقتصاد برخه دې مسئلې ته ځیر او مناسب ځواب ورته ویلای شی.
له نیکه مرغه موږ د اقتصاد په برخه کی له نن څخه آن تقریباً پنځوس کاله مخکی داقتصاد پوهنځی کی یو څو قاموسونه لرل. په دې برخه کی د درانه استاد اروابناد م.ع. غوثی نوم تر ټولو مخکې راځي. د المان دهیواد د توامیت ټیم موږ سره دې برخه کی ډیر کار کړی و، چې اوس یی هم اثار شته. دغه معلومات د افغانستان د لوی قاموس د اقتصاد دبرخې په تمهید او سریزه کی راغلی دی.
موږ د ځوانانو د لغاتو د زیرمې د غنامندي، ددوی د مسلکی ادبیاتو د بډاینې او د افادې دقدرت د پیاوړتیا لپاره د افغانستان د لوی قاموس لمن ډیره غوره وبلله، نو ځکه مو په مینه اوشوق راودانګل او دغی لمن کې مو ځوان کول( راتلونکی نسل ) ته د ګلو یو څو ګیدۍ ایښی دی. په دغه کار کې د افغانستان د لوی قاموس ټول ټیم، په تیره بیا انجنیر قیس کبیر، میرمن ص.واهب، دارنه استاد داکتر صاحب نعیم اسد، محترم محداجان مرزی، د دوکتورا کاندید عبدالله عادل، داکترتیموری او راقم الحروف ټولو په ګډه دپام وړ زیار وګاله. موږ هڅه کوو چې له نړیوالو تجربو څخه په استفادې دغه ګډه ملی او علمی – مسلکی پروژه نوره هم پیاوړی او بډایه کړو. دې برخه کې د ټولو هیوادوالو، ادیبانو، مسلکی متخصصینو او لیکوالو رغنده نظرونو او مرستو ته سترګې په لار یاستو.
کله چې د افغانستان دلوی قاموس(قاموس کبیر افغانستان) ابتدایی او ساده بڼه باندې کار نوی پیل شو، یو شمیر نیوکې وشوې، خو د ټیم په وړاندې اوږده لاره پرته وه . دا دی اوس د اکاډمیکو معیارونو سره سم بیلابیلو برخو؛ اقتصاد، کرنې، جیولوجی او معدن کې او وروسته په نورو څانګو کې کار روان دی، ان شاالله وبه کولای شو د هیواد دپوهانو په مرسته ځان د سیالانو سیال کړو. زموږ یوه موخه دا هم ده چې ځوانان له دیجیتل میتدونو، دIT له اوچت ظرفیت، په معاصره شیوه معلومات او په ګړندي ډول زده کړې onlineسره اشنا او عادت کړو. دا زموږ په تحصیلی بهیر کې نوې تجربه اویو نوی ګام دی، د دغه قاموس ټیم د جاریه صدقې په تمه دا دروند کار مخې ته ایښی دی، الله پاک دې راته توفیق او ددی زحماتو اجر راکړي. (امین).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ